د عمومي مغلوماتو ساتنې قانون

## د محرميت خبرتيا

1. هغه معلومات چې تاسو يې وړاندې کوی د ماشومانو، مساوات، معلوليت، ادغام، او ځوانانو ادارې دنړيوال خونديتوب استوګنې خداماتو (IPAS) له لوري راټولېږي . د معلوماتو د کنټرولر د اړيکو تفصيلات په لاندې ډول دي:
د معلوماتو د ساتنې افسر، د ماشومانو څانګه، مساوات، معلوليت، ادغام او ځوانان، بلاک 1، ميزين پلازا ،50-58 لاندنۍ د باګوته کوڅه، دوبلين2 ، D02 XW14
2. موږ ممکن هغه شخصي معلومات وکاروو چې تاسو د نړيوال محافظت استوګنې خدماتو ته ورکړي ترڅو ستاسو لپاره د مناسب استوګنځي ارزونه وکړو او تاسو ته د اړتيا سره سم مرستندويه خدمات چمتو کړو.
3. زمونږ قانوني منابع ستاسو دمعلوماتو د راټولولو او پروسس کولو لپاره په لاندې ډول دي
   - د 2015 نړيوال محافظت قانون او تر هغې لاندې مقررات
   - د اروپايي اتحاديې (ډبلين سيستم) مقررات 2018
   - د اروپايي ټولنې (د مخافظت لپاره په شرايطو برابرۍ) مقررات 2006
   - د 2013 کال د اروپايي اتحاديې (فرعي(لږ مهم) محافظت) مقررات لکه څنګه چې اصلاح شوي
   - د اروپايي اتحاديې د ډوبلين قوانين
   - د اروپايي اتحاديې يوروډاک قوانين
4. وړاندې شوي شخصي معلومات به د عدليې رياست او د ماشومانو، مساواتو، معلوليت، ادغام، او د ځوانانو د معلوماتي ټکنالوجۍ په IT سرورونو کې خوندي وساتل شي.
5. د آيرلينډ طبيعي(تبعه) کولو او مهاجرت خدماتو/عدالت رياست سره د کورنيو معلوماتو شريکولو سربيره، معلومات ممکن د نورو دولتي دفترونو/ادارو سره چيرته چې لازم وي شريک شي.په شمول د :
   - د ټولنيز خونديتوب رياست
   - توسلا (Tusla) - د ماشوم او کورنۍ اداره
   - د روغتيايي خدماتو مدير
   - د کور جوړونې، محلي حکومت او ميراث رياست
   - ان ګارډا سيوچانا(پوليس)
6. معلومات ممکن زموږ د ژباړې او ترجمې خدماتو چمتو کونکو سره هم شريک شي.
7. چمتو شوي شخصي معلومات ممکن د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ سره هم د دوی د ماموريت په ارتباط شريک شي ددې لپاره چې د نړيوال خونديتوب پروسې څخه ملاتړ وکړي .
8. د دې خبرتيا په اړه د هرې پوښتنې لپاره اړيکه دا ده:
د معلوماتو د ساتنې افسر، د ماشومانو څانګه، مساوات، معلوليت، ادغام او ځوانانو، بلاک 1، ميزين پلازا ،50-58 لاندنۍ د باګوته کوڅه، دوبلين2 ، D02 XW14.
9. دا معلومات به د ماشومانو، مساواتو، معلوليت، انسجام او ځوانانو، د نړيوال محافظت د استوګنې خدماتو د ساتلو مهال ويش او د ملي آرشيف قانون 1986 اړتياوو سره سم ذخيره شي.
10. تاسو کولی شئ د هغه شخصي معلوماتو کاپي غوښتنه وکړئ چې موږ يې لرو. تاسو کولی شئ د لاسرسي غوښتنې موضوع فورمې په ډکولو سره ترسره کړئ، چې په https://www.gov.ie/en/organisation-information/db300-dcediy-subject-access-request-form/ کې موجوده ده او
sar@equality.gov.ie ته يې ولېږئ. يايې په لاندې پته د معلوماتو د ساتنې افسر ته د پوست کړئ.
مخکې لدې چې کوم معلومات تاسو ته واستول شي تاسو به اړ ياست چې خپل هويت تصديق کړئ.
11. تاسو داحق لرئ چې ستاسو په معلوماتو کې که چيرته کومه غلطۍ وی هغه اصلاح کړئ. د دې لپاره تاسو بايد د ماشومانو، مساواتو، معلوليت، انسجام او ځوانانو څانګې د معلوماتو د ساتنې افسر ته په دې پته

dpocontact@equality.ie او یا په اسناباندې ورکړل شوي پته یې ولیکئ  د هغې غلطۍپه اړه چې اصلاح ته اړتیا لري.

12. تاسودا حق لرئ، چې خپل معلوماتو ترلاسه او یا پاکړی او/یا ستاسو د معلوماتو په پروسس کولو محدودیت سربیره ستاسو د خپلو معلوماتو په پروسس کولو باندې د اعتراض حق لرئ. سربیره پردې، تاسو حق لرئ چې د معلوماتو د ساتنې کمیسیون سره شکایت وکړئ.

13. تاسو کولی شئ چې د ماشومانو، مساواتو، معلولیت، ادغام، او ځوانانو څانګې د معلوماتو د ساتنې افسر سره د پوست له لارې هم اړیکه ونیسئ:

د معلوماتو د ساتنې افسر، د ماشومانو څانګه، مساوات، معلولیت، ادغام او ځوانان، بلاک 1، میزین پلازا ،50-58 لاندنۍ د باګوته کوڅه، دوبلین2 ، D02 XW14.

ایمیل ادرس : dpocontact@equality.gov.ie